مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۰۸/۰۱

# زه او زما دعا

زه د دی دنیا په مخ هغه نادان یم
غوړ مې نه ګورم په سپی پسی روان یم

د خپل کور په ورانیدو کی بل هر چا نه
میړنئ د تاریخو یم قهرمان یم

ورور وژنه را ته پاتی میراثی ده
سم د پلار او د نیکه په لار روان یم

لمسولی هر دښمن یم خپل عزیز ته
نه پوهیږم چی دا زه څنګه انسان یم

په عمل کی په هر چا یمه خرڅ شوی
په خبرو کی زمری یمه افغان یم

«میکناټن» او «کیوناری» می پرزولی
یوه ورځ کی«اکبرخان» بیا «یعقوب خان» یم

ډیر پردی، پردی یو شوی دی دنیا کی
زه په کور کی خپلو ورونو سره وران یم

ډیر ښاغلی کړی د نورو سره مرسته
زه په سر د یتیم تندر د آسمان یم

خو د درواغو او د لافو په میدان کی
زه ګټونکی له نړی د دی میدان یم

په عمل کی مزدوری کوم دښمن ته
خو! خبرو کی غازی یمه «امان» یم

لوی مفسد په دی نړی کی له ما نشته
د بدبختو بچو پلار افغانستان یم

لویه خدایه! ما له دی بچیو خلاص کړی
شرمولی چی یی زه په ټول جهان یم

جولای/۲۰۱۹/۳۰
مرکم ـ تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ